کاتب پاڅون

# پندونه او خوندونه

د طنزونو



کال: ۱۳۷۶

کاتب پاڅون

# پندونه او خوندونه

## د طنزونو



PROPERTY OF ACKU 6823

کال: ۱۳۷۶

بسم الله الرحمن الرحیم


د کتاب نوم : پندونه او خوندونه

لیکوال : کاتب پاڅون

د کمپیوتر سمبالوونکی: اجمل سنګریار

د چاپ کال: ۱۳۷۶

چاپ دانش کتابخانه- دهکی نعلبندی، قصه خوانی- پشاور

# د خپروونکی یادښت

دانش کتابخانه تل دا هڅه کوي چې وخت په وخت خپلو درنو هیوادوالو او د کتاب مینه والو ته ښه او معیاري کتابونه وړاندې کړي، ځکه چې زموږ په ګران هیواد کې ځو کلنی جګړې له ځان سره هرڅه وران ویجاړ او ګډوډ کړي. څرګنده خبره ده چې په هیواد کښې مطبعه، کتابتون، کتاب پلورنځي هرڅه د ځو تنو د ...... قربان شوي. زه خپلې خبرې اوږدول دلته نه غواړم، د محترم کاتب پاځون صاحب پندونه خوندونه، دولتي موټر، سړي څنګه ښځه شوه؟ دیګونه او شعرونه، د بنجاره هتي، دښار په ستدیوم کې، دا د هغو خوږو طنزي مجموعو نومونه دي چې هم خوند لري او هم هغه دچا خبره رنګ. پخپله یې وګوري او پخپله فیصله وکړي دا تاسي او دا د محترم کاتب پاځون صاحب طنزونه. د الله په امان.

اسدالله ساپی

ددانش کتابخانی منتظم

# فهرست


| گڼه | سرلیک | مخ |
| --- | --- | --- |
| ۱- | په کتابونو کې فهرست هم گڼه لري او هم تاوان. گڼه یې دا ده چې د لوستونکی کوم مطلب په کار وی. هغه بی له ځنډه پیدا کوی او بیا یې لولی. خو تاوان یې په دی کې دی چې لوستونکی لټ او ورېا خور آموخته کوی.<br>د هغی پیرزوینی له مخی چې زه یې د لوستونکو په حق کې لرم، نو نه می خوښېږی چې دوی لټ او ورېا خواره روږدی شی. په دری ژبه کې متل دی چې: جوینده یابنده است. نور نو خو ښه ستاسی چې د کتاب پاڼی په دي عبثو کړتو پړتو پسی اړوی او که همداسی یې امانت، سلامت د کور په تاخچه کې ږدئ. | ؟ |

# یو څو خبرې

زیات او کم اوه کاله کیږي چې دغه لیکنې مې د خپریدولپاره راټولې کړې وې، خو وروستیو جګړو زه او دا بیچاره لیکنې دومره سرګردان کړو چې یوازې مې د پېښور په ښار کې د پیشو د بچې غوندې په اوو کورونو وګرځولې.

که څه هم د کابل په جګړو کې دراکټونو، بمونو او تو پونوله ډزو ژوندی راووتې، خو هغه متل دی چې وایې: په یوه باندې چې دوه شي، رښا ورځ پرې توره شپه شي. دلته په پېښور کې په دې لیکنو دوه بلاوې اخته شوې. له یوې خوا د مجنونو کرایې کورونو رطوبت او له بلې خوا د پېښور وینې «موریانه» چې په لرګي او کاغذ پسې څراغ په لاس ګرځي. له دې ویرې چې د وینو خوراک نه شي نو د مهاجرت له ستونزو سره سره مې دغه وړوکې کڅوړه ماتې ګوډې لیکنې د پندونو او خوندونو په نوم چاپ ته وسپارلې.

د ځینو دوستانو دا نوم خوښ نه ؤ، خو په دې را وروسته وختونو کې یو زیات شمیر کتابونه په دغسې منظومو او قافیه والونو مونو باندې خپاره شوي دي. د دې لپاره چې زه هم په دې سیالۍ کې له نورو وروسته نه شم،

نو دغه نوم می ورباندی کیښود. خدای «ج» دي نیک او مبارک کړی.

که رښتیا وو ایو، نو زموږ یوه لویه بدمرغی دا ده چې د نوم په ایښودلو کې دقت نه کوو. که په کور کې کوم ماشوم پیدا کیږی، نو تردوه دری کلونو پوری بی نومه گرځی. څوک ورته تپوس، څوک موږ ک او څوک کوتی وایي. ډیر وسره دغه نوم تر قبره پوری ملگری وی، خو ځینو باندی وروسته له هغی چې هلک یا نجلۍ روږی ته ورسیږی دغره د کومی ونی یا تیږی نوم ورپوری غوټه کړی.

مشهوره وینا ده چې اسم په جسم تاثیر لری. ځینو څیړونکو داسی حقایق تر لاسه کړی دي چې د پورته خبری بشپړ تصدیق کوی. ځکه وایی چې: هغه شمیر مجرمین چې په جنایی پیښو کې ککړ دی د همدغسی نومونو خاوندان وی.

دا خبره می ځکه وکړه چې پلرونه او میندی د خپل اولاد په روزنه او تربیه کې مسوولیت لری، همدغسی د خپل اولاد د نوم په ایښودلو کې هم بی مسوولیته نه دی. نو ښه به داوی چې موږ د خپلی ټولنی اصلاح د نوم له ایښودلو پیل کړو.

رښتیا یی ویلی دی چې خبری له خبرو پیدا کیږی. ما غوښتل چې د دي کتاب په ځینو برخو رڼا واچوم، خو د نوم خبری، خبرهٔ د نومونو تر خبری ورسوله.

په دغو لیکنو کې چې یا به مولوستلي وي او یا که د لوستلو حوصله په لاس درغلې نو یو څو داسې لیکنې به هم په مخه درشي چې د هغې په څېر یا لږ څه ورته کیسې به موپخوا اوریدلي وي، خو ما هڅه کړې ده چې د یوې سالمې انتباه په خاطر د طنز په ژبه هغه د لیکنې په قالب کې واچوم.

دا ډول طنزونه چې له انسان پرته د نورو ژوند یو او غیر ژوند یو موجوداتو په ژبه وي له ستوغ انتقاد او نیغ په نیغه ګوتې نیولو څخه موثر تمامیږي. ځینې ګټور پندونه له دې لارې د لوستونکو او اوریدونکو ذهنونو ته رسیږي او د ټولنیزو نیمګړتیاوو د اصلاح لپاره ډېره ښه وسیله ده.

هغو نظامونو کې چې څوک د خپل رواحق چیغه له خولې نه شي ویستلی او په ستونې کې خپه کیږي، دا ډول لیکنې او سبک په پوره جرئت خپل رسالت ترسره کوي او د ظالم په ضد : مظلوم د حق غوښتنې غږ د خلکو غوږونو ته رسوي. خو زه دا دعوه نه کوم چې په دغو لیکنو کې به هم دا دود مراعت شوی وي. په هر صورت ستاسې عزتمنو لوستونکو پام دغو اوتو بوتو ته راګرځوم. هیله ده چې د لوستلو حوصله یې ولرئ.

په ډېره مینه

پاځون

# نابللی میلمه

چرګ ته يې وویل چې:

- په دې څلور کونجه دنیا کې دې له څه شي نه بد راځي؟

چرګ خپله منبوکه کړه کړه او ځواب يې ورکړ:

- له نا بللي میلمه څخه.

پوښتونکي بیا ورځني وپوښتل:

- ولی، په څه؟

چرګ په ځواب کې ورته وویل:

-په دې چې څو ورځې د مخه یې زما بل ورور نابللي میلمه ته حلال کړ.

# برخلیک

وړوکی وری له خپلی مور څخه وپوښتل:

- مورجانی، زما لالا پسته چیرته بیایی؟

میړی چې دا ډول پیښی یی ډیری لیدلی وی، خپل بچی ته وویل:

- وایی چې د کوز او بر کلی خانان د عمرونو بدی پای ته رسوی او نور نه غواړی چې یو د بل وینی وبهوی، ستا لالا یی د جوړی له پاره بوت.

وري د شنې جلګۍ له پاسه څو د خوښۍ ټوپونه ووهل او مورته يې مخ ورواړاوه:

- دا زما لالا پسه څومره مهم دی چې د دوو خانونو ترمنځ جوړه کوي.

د ميږې په سترګو کې رڼې اوښکې راغلې، خو د خپل بچي ترمخ يې هغه ونه څڅولې او په نيولي غږ يې ورته وويل:

- هوکې بچيه! ستا لالا پسه ډير مهم دی. او که د انسانانو ترمنځ دا بدي او تربګني وي، نو يو وخت به ته هم د خپل لالا په څير مهم شې او د دوی جوړه به کوې.

څو شيبې وروسته وری د کلا د سترې دروازې ترمخ وليدل چې لالا پسه يې په وينو کې ترپکې وهي او څو قدمه ها خوا د وو تنو په غيږو کې سره نيولي دي.

# د زړه خواله

د کتابتون په یوه الماری کې دوو کتابونو په خپلو کې د زړه خواله کوله.

لومړی کتاب چې له مخ نه یې خړې خاورې دوړې لړلې. تر څنګ ګاونډي کتاب ته وویل:

- پخوا به وو، کله کله به د موجودې په وخت کې خاورې او دوړې راځنې پاکېدلې، خو نن په خړو خاورو کې ډوب یو.

دوهم کتاب چې په شونډو یې دوه ګوتې خاورې پرتې وې، په ځواب کې ورته وویل:

- په خاورو شکر باسه. له دې ووېرېږه چې سبا ته د خاورو په ځای په ایرو کې ډوب نه شې.

دوهم کتاب رښتیا خبره کوله، ځکه چې سبا ته باقي شوي معتمد کتابتون ته اور واچاوه او د باقیاتو سندونه یې په مصرف مجرا شول.

# بدلي ثيري

ګيدړ غوښتل چې ځان د ښکاريانو له شره خلاص کړي، او خپله څيره بدله کړي، د دې کار له پاره يې د رنګريز خم غوره وباله او په يو ډول يې ځان د رنګ په خم کې غوپه کړ. له رنګيدلو سره د ګيدړ بڼه بدله شوه، خو

نوي جنجالونه ورته وزيږيدل. وارله واره د ده خپل تيرراتول شو او رنگ شوي گيدړ يې په دي نوم چې دا عجيب ځناور زموږ له قبيل ځخه نه دی، له خپل منځ نه وشاړه.

گيدړ اړ شو چې له خپلو گيدړانو بيل شي او ځان ته د ليوانو په منځ کې ځای ولټوي. ليوانو چې په خپل منځ کې په دغه نمونه او عجيبه ځناور سترگي ولگيدي، ټول راغونډ شول او په لومړي ورځ يې رنگ شوی گيدړ له خپلې سيمې وويست.

له هغې وروسته د سور لنډيانو، پړانگانو، يږو او په ځنگله کې د ټولو ځناورو منځ ته لاړ خو هيچا له ځان سره پری نه ښود. په پای کې ځوړند سر خپل خيل او تير ته راستون شو د ټولو تر مخ يې پوز په ځمکه وسولاوه او د پښيمانۍ په ښود لو سره يې نورو گيدړانو ته وويل:

- زه هم ستاسي په څير گيدړيم، ما غوښتل چې د څيري په بدلولو سره به د ښکاريانو له شره خلاص شم، خو په دي نه پوهيدم چې بدلې شوی څيري په هيڅ خيل او تير کې د اوسيدو ځای نه لري.

له دي خبري سره يې داوبو ډنډ ته توپ کړل او ځان يې له رنگ ځخه پاک کړ.

# د زرکانو جګړه

وايي چې په پخوا زمانو کې به ټولو ژوندیو موجوداتو خبرې کولې. کومه ورځ دوه زرکان سره ننښتي وو او خلک يې تماشې ته ولاړ وو. یو او بل يې په خپلو تیرو مښوکو باندې دومره سره ژوبل کړي وو چې د دواړو په مخونو دوينو څاڅکي مالومېدل او مښوکې يې سرې وې. په دې وخت کې کوم څيرک ننداره چې له یو زرک نه وپوښتل:

– ولې خپل هم نوعه په مښوکه وهې او ورسره جګړه کوې؟

زرک له ډير قهر څخه څمکه څو ځله په مښوکه ووهله او ځواب يې ورکړ:

– زه ځکه ورسره جګړه کوم چې هغه د بل د لاس آله ګرځيدلی ده. د همدې لپاره هغه ته اوبه او دانه ورکوي چې له ما سره يې وجنګوي.

کله يې چې له بل زرک څخه وپوښتل، نو د هغه ځواب هم د لومړي زرک په څېر ؤ، او له جيره خور زرک سره يې جګړه د ځان روا حق باله.

هوښيار او څيرک سړی، د دې یو ډول ځوابونو په اوریدلو سره موسکی شو او غوښتل يې چې دواړو ته قناعت ورکړي، خو زرکان خپلو مالکانو په پنجرو کې ننه ایستل او د بلې ورځې جګړې له پاره يې شرطونه سره پرې وتړل.

# وصيت

زوړ کال چې د ژمې ساړه يې ژامې ړچولې او د ډېر سخت والگي له کبله يې سينه خرسيدله ، نوي کال ته په وصيت سره وويل:

- د انسانانو له لاسه مې زړه خوړين ، خوړين دی . د جگړو ، لوږې ، تندې ، ناروغيو او نورو بدمرغيو مسوولين او عاملين په خپله دوی دي ،

خو بیا پره په موږ اچوی او وایي چې: کال خراب ؤ.

په خپل دغه دوولس میاشتي عمر کې می دوولس ساعته آرام ونه لید او نه می له چانه سمه خبره واوریده. چې هر چاته می غوږ نیولی دی، نو ورځنی اوریدلی می دی:

- کاشکي دغه سږنی خراب کال خو ژر تیر شي.

دا یوازې ماته نه وایي، بلکې ستا بد مرغی هم له خپلي لومړۍ ورځي پیل کیږي. بې انصافه پلورونکي او محتکرین درته په کمین کې ناست دی، خو ته ورته هوښیار اوسه، که ډیر دې زړه طاقت نه کوی او د دغسې خبرو حوصله نه درته پاتې کیږي، نو د زړه ړاس د څو اوښکو په تویو لو سره باسه. گوندی وی چې څو تنه د زړه سوی خاوندان ستا د اوښکو په قدر وپوهیږي، او د ځمکې پر مخ د خیراو ابادۍ تخم وشیندي.

له دې خبرې سره زوړ کال خپله وروستۍ سلگۍ ووهله او نوی کال چې د زاړه کال خبرو او وصیت یې زړه نری کړی ؤ پړینگ په ژړا شو، نوی کال د خپلو اوښکو په باران کې دغلې دمندې یې ترخنگ واوریدل چې څو تنو ویل:

- که خدای کول، سږنی کال به آباد، او سوکاله وی.

خو څو تنو د دې خبرې په اوریدو سره هغوی ته برگ، برگ وکتل. او داسې مالومه شوه چې دغه څو تنه محتکرین او سودخواره وو.

# بی تفاوتی

یو مالدار بزگرؤ چې هم یې غوا گانې لرلې، هم یې پسونه ساتل او هم یې د خپلو کارونو له پاره خره ساتلي وو. په خرو به یې ځمکې ته سرې وړلې، له غره نه به یې لرگي راوړل او د حاصلاتو په وخت کې به یې غله دانه د پلورلو له پاره بازار ته پرې وړله.

یوه ورځ یې خره د لرگو له پاره غره ته بیولي وو او یوه خره چې ناروغه وه په کور پاتې وه. په دې ورځ دغې خرې یو ښکلې کوتې وزیږاوه. کله چې نور خره له غره څخه راغلل نو د بزگر یوې شوخې وزې د کلا تر مخ د کوتي په پلار باندې زیرې وکړ:

– زیرې مې درباندې، بچې دې پیدا شو.

خر چې د لرگیو تر بار لاندې خولې، خولې ؤ، په بې پروایې سره یې غوږونه وښنډل او ځواب یې ورکړ:

– په ما یې څه چې وزیږید. خپل بار به وړي، خپل به وړم.

# کمپوز او شعر مې دواړه خپل دي

په ساړه منۍ کې دونې په وچ او سپيره ښاخ باندې يوې کاغۍ نوکې تېنګې کړې وې او په لوړ غږ يې سندرې ويلې. هر چا به چې د دې بې سُره او بې تاله غږ اورېد، نو په غوږونو کې به يې ګوتې نيوې او له هغه ځايه به لېرې کېدل. په دې وخت کې يوه فاختـه چې د کاغۍ له کريغو او بې سُره سندرو په تنګه شوې وه د کاغۍ څنګ ته ورغله او غوښتل يې چې هغه له سندرو منع کړي. خو کاغۍ پرې رادمخه شود:

– فاختې خور، تا ته لکه چې زما سندرو خوند درکړ چې څنګ ته مې راغلې؟

فاختې غوښتل ډانګ پيلې ورتـه ووايي چې نور دغه ناشولتـه غږ له ستونې مه باسه، خو کاغۍ يې خبره په ستونې کې ورنيمه کړه او د ځان ستاينې په دوډ يې ورته وويل:

– د سندرې شعر او کمپوز دواړه زما خپل دي.

# د ښکلا ملکه

د مرغانو په منځ کې د ښکلا د ملکې د ټاکلو مسابقه وه. له طوطي نیولې بیا تر طاووس او چڼچڼې پورې ټولو په ځان ګوتې وهلې وې او د مسابقې د ګټلو خوبونه یې لیدل. په دوی کې کاغې هم د مسابقې ګټلو ته منبوکه په ځمکه موښله. په لاره کې چا ورته وویل:

کاغې بي بي، دا خوبونه له سره وباسه چې تا ته څوک د ښکلا د ملکې لقب درکړي، تر تا ښکلې مرغۍ په مسابقه کې برخه لري. حق د هغوی دی.

کاغې په خپله توره منبوکه ځان وڅانډه او ځواب یې ورکړ:

– هغه مور لا نه ده پیدا شوې چې تر ما بله ښکلې وزېږوي. په انسانانو کې چې کله ښکلا ستایل کېږي، نو د تورو سترګو او تورو زلفو ستاینه کوي، او شاعران ورته شعرونه وایي. حال دا چې زه سر تر پایه تکه توره یم.

کاغې رښتیا خبره کوله، ځکه چې په مسابقه کې یې لومړی مقام تر لاسه کړ او د ښکلا ملکه شوه. کله چې د ژوري هئیت ترکیب څرګند شو، مالومه شوه چې د هیئت زیاتره غړي شاعران وو.

# اعتراض

شادی (بیزو) دوه ځله په خپل ژوند کې د اعتراض غبر پورته کړی دی.
لومړی اعتراض د داروین په ژوند د هغه په نظر یاتو، او دوهم اعتراض په دي وختونو کې د ژوبڼ په مسوولینو باندی ؤ.

د لومړی اعتراض علت داؤ چې شادي نه غوښتل انسان له خپل نسل څخه ویولی، ځکه چې انسان د خپل هم نوع وینی تویوی او وژنی یی، خو شادي له دي عمل څخه کرکه لری.

او د دوهم اعتراض علت دادی چې د ژوبڼ مسوولینو لکه څنګه چې ښایی د تابلو مطابق د دوی ماکولات نه دي ورکړی.

# د موږکانو د اتحادیې او د بیزوګانو د فدراسیون ګډه اعلامیه

موږ موږکان او بیزوګان د ګډې همکارۍ او د علمي تجربو اوږد ګډ تاریخ لرو.

همدا موږکان او بیزوګان وو چې د لومړي ځل له پاره یې په بهرني فضاء کې پل کیښود او د سپوږمۍ د کُرې له اسرارو څخه خبر شول.

که څه هم ګالیله د ځمکې د کُرویت فرضیه وړاندې کړې ده، خو موږ په عمل کې د ځمکې کرویت په ثبوت رسولی دی. ځکه چې د لومړي ځل له پاره د ځمکې ګرد چاپیره ګرځیدلي یو. د بې وزنۍ په حالت کې د ژوند یو موجوداتو د ژوند په باب څیړنې زموږ د آزمایښتونو نتیجه ده.

خو له دې ټولو افتخاراتو او علمي لاسته راوړنو سره، سره، انسانان غواړي چې په موږ د خپل حاکمیت واګې ټینګې کړي. دغه بد مرغه نسل چې موږ بیزوګان د دوی په خپلوۍ شرمیږو په دې لټه کې دي چې زموږ شته والي د ځمکې په مخ له منځه یوسي. دوی د خپلو انساني بدمرغیو او ناروغیو آزمایښتونه په موږ بیزوګانو او موږکانو سرته رسوي. په

لابراتوارونو کې د زهري ګازاتو او نورو کړاوونو په وسیله زمونږ ژوند تهدیدوي.

د مونږ کانو اتحادیه او د بیزوګانو فدراسیون اعلاموي چې:

- مونږ نه غواړو چې د انسانانو له خوا په لابراتوارونو کې په بیرحمانه ډول ووژل شو.

- مونږ کان او بیزوګان حق لري چې په خپلو قلمروونو کې ازاد او بی تشویشه ژوند وکړي.

- انسانان غواړي چې د ایدز د ناروغۍ مکروب چې د دوی خپله بد مرغي ده په بیزوګانو باندې آزمایښت کړي او دغه انساني تراژیدي مونږ ته هم راولیږدوي.

مونږ په ډاګه دغه تیري او تجاوز غندو او د خپل اعتراض غږ اوچتوو.

- مونږکان د مکروبونو د آزمایښت تر مړیني د مرګ موش او تلک مړینه غوره بولي.

- د بیزوګانو فدراسیون په کلکه سره اعلاموي چې: که چیرته انسانان زمونږ د نابودولو څخه لاس وانه خلي، نو مونږ به له دي وروسته د انسانانو د خوښۍ له پاره د شادي بازۍ مسلک خوشي او په ژوبڼونو کې به په اعتصابونو لاس پوري کړو.

- مونږ د حیواناتو هرډول استثمار او استعمار په ضد یو.

# هر څوک له قیمتي ښخه ژاړي

څو ورځې د مخه یو بدبخت اوښ د قصاب له چړې ښخه په داسې حال کې وتښتید چې ستونی یې نیمایي غوڅ شوی ؤ.

اوښ خواره کوتې چې له ستوني یې وینو داري وهلې دواړ ترغاړې یو دیوال ته تکیه او ساه نیولې شو. په دې وخت کې یو چا د تیښتې په باب ورځني وپوښتل. اوښ په ځگیروی سره ورته وویل:

- په دې پوهیږم چې له چړې ښخه مې خلاصون نه شته، خو زه ځکه را وتښتیدم چې د قصاب چړه پڅې وه.

په همدې شیبه کې قصاب هم ساه نیولې په نیم بسمل اوښ پسې راورسید، کله چې له قصاب ښخه وپوښتل شول چې ولې یې چړه پڅې دي او په پڅو چړو باندې څاروي حلالوي. هغه په ځواب کې وویل:

- چړې به خود پڅې وي چې د تیره کولو بیه یې آسمان ته پورته شوې ده.

قصاب د دې له پاره چې د څرخ اجوره لوړه ده، نو په پڅو چړو اوښان حلالوي، خو په خپله قیمتي یې سترگې پټې دي.

# د ثاه چونگښه

یوی مغروری چونګښی چې مچ یی نیولی ؤ او د خوښی ټوپونه یی وهل، په ټوپونو ، ټوپونو کې د ثماه غاړی ته ورسیده. د ثاه په غاړه یې لا مچ تر ستونی نه ؤ تیر شوی چی ثاه تـه ور ولویده، په ثاه کې پی پنځه شپږ قدمه سم نه وو اخیستی چې د ثاه په یوه اوسیدونکی چونګښه یی سترګی ولګیدی. له روغبړ وروسته د ثاه چونګښی ورځنی وپوښتل. :

- ودي نه ویل چې له ځاه څخه بهر نړۍ به څومره لویه وي ؟

میلمني چونګښې ځواب ورکړ :

- له ځاه څخه بهر نړۍ ډیره لویه او پراخه ده.

د ځاه چونګښه څو ګامه په ځاه کې وړاندې لاړه او پښې یې سره وغزولې، بیا یې وپوښتل:

- دومره به لویه وي ؟

دې ورته وویل:

- نه، تر دې هم لویه او پراخه ده.

د ځاه چونګښې نورې هم پښې سره ارتې کړې او له دې بیدریغه پښو غځولو سره په منځ دوه ځایه شوه، ځاه ته لویدلې چونګښې چې دا حال ولید، غوښتل یې چې له ځاه څخه بهر ته ووځي. هر څو توپونه یې چې ووهل دوتلو وس یې ونه رسید. په پای کې د مړې چونګښې سرته کیناسته او په ډک ستوني یې وویل:

- پروانه لري خوري، که ته مړه شوې او زه تر عمره د ځاه بندیوانه شوم. ستا دوه ځایه کیدلو او زما لویدلو ماته دوه درسونه را زده کړل، یو دا چې: بې ځایه غورځې، نو بې ځایه به پرزې او بل دا چې له حد او اندازې څخه زیات د پښو غځول سړی دوه ځایه کوي.

# موږک څنګه فیل شو؟

یو موږک چې په خپل کور کهول کې لږ څه په هډقوي او غټ ؤ، نو نورو موږکانو به ورته د فیل خطاب کاوه. دغه موږک په فیل، فیل اوریدلو سره دومره ځان ته مغرور شوی ؤ چې د نورو موږکانو په منځ کې یې ځان یو رښتینی فیل احساساوه. تل به یې له ځانه سره ویل:

- زما او د فیل د پوستکی رنګ یوشی دی. څلور پښې، دوه غټ غوږونه، اوږد وربوز، دا ټول زموږ یو برابر دي. دا چې د فیل خرطوم اوږد دی. نو په مقابل کې زما لکۍ تر هغه اوږده ده.

د غوښاهتونو او دغښوالی غرور موږک تردي حده ورساوه چې له خپل اصل او نسب څخه تیر شي او ځان ته د فیل پیژند پاڼه او تذکره واخلی. دا چې په رسمی دفترونو کې یې څوک پیژندل، واسطه یې لرله او که د سود سوغات په مرسته یې کار تر سره کړ، دی پسی به یې سر نه ښکاره کوو، خو په دوه دری اونۍ کې یې د فیل توب قانونی اسناد تر لاسه کړل.

د پیژند پاڼې، تذکری او نورو اسنادو تر څنګ یې د سیاحت په نوم

پاسپورت هم ترلاسه کړ. غوښتل یې چې څه موده د هندوستان په ځنګلونو کې د نورو فیلانو په څیر سیاحت وکړي. کله یې چې د ویزې کار خلاصاوه، نو هلته له یو ربښتیني فیل سره اشنا شو. فیل په لومړي ځل لیدلو کې ورځني وپوښتل:

- موږک جانه، لکه چې سفر ته دي په نیت کې ده؟

موږک د فیل له دي تحقیر او توهین څخه سور او شین شو او په غور غړ یې ورته وویل:

- موږک تا غوندی وی چې د فیل او موږک توپیر نه شي کولای، زه فیل یم، موږک نه یم.

فیل د موږک له دي خبری سره په خندا شو او په خندایي ورته وویل:

- مالومیږي چې عقل دي له لاسه ورکړی دی او لیوني یې چې دا خبری کوی یو موږک څنګه کیدلی شي چې فیل شي؟

موږک سمدستي خپل قانوني اسناد وربښکاره کړل. فیل چې رسمي سندونه او په سندونو کې رسمي مهرونه او لاسلیکونه له نظره تیر کړل په پوره حیرانی یې وویل:

- عجب! رسمي سندونه خو د دي شاهدی ورکوی چې ته فیل یی، خو دا چې زما تر سترګو موږک مالوم شوی، دا به زما د سترګو نقصان وی. بخښنه غواړم.

موږک په هغه ورځ چې هوايي ډګر ته روان ؤ ، له هماغه فيل سره ملګری شو. کله چې د هوايي ډګر د کنترول دروازې ته نيږدې شول، که ګوری چې په دروازه کې پيشو ولاړه ده، پاسپورتونه او ويزې کنترولوی، فيل په بيړه له دروازې تير شو او خپل اسناد يې پيشو ته وروښودل، خو موږک چې پيشو ته وکتل په مخ يې دويری او ډار خولی راماتی شوی او بير ته په شا، شا له دروازې را ستون شو.

فيل له هماغه ځايه ورباندی غږ کړل:

– څه خبره ده، ولی وګرځيدی؟ ستا خو ټول سندونه قانونی دي. موږک چې ځان يی تيښتی او منډی ته جوړاوه، د فيل په ځواب کې وويل:

– په اسنادو کې ګړه بړه نه شته، خو همدا اوس می فکر ته راغلل چې په هندوستان کې تودوخه ډيره ده. دا چې لا هند ته نه يم رسيدلی او خولی راباندی راماتی دي، نو که هغو تودو ځنګلونو ته لاړ شم زما به څه حال وی.

موږک لا خبره نه وه خلاصه کړی چې د پيشو ورباندی پام شو، پيشو چې څو په موږک باندی ټوپ وهلو ته ځان جوړا وه، موږک د سترګو په رپ کې د فيل توب قانونی اسناد په ځمکه وغورځول او د دهليز په کونج کې يوی سوړی ته ننوت.

# افسانه

د ختیځ بام پرسر ورځ بډوهلی متې ولاړه وه، او دلویدیځ بام له پاسه ببر سر شپه ورته ګوابښیدله. دواړو لکه د دوو جنګره ګاونډیو ښځو غوندی یوی او بلی ته تانی ورکولی، او نانددری یی سره وهلی. ورځی شپی ته وویل:

- کم بختی، ته تور مخی څنګه له ما سره ځان سموی، که دومره د نرلور یی نو زما تر درتللو پوری هماللته اوسه.

شپه له دي خبری سره موسکی شوه او ځواب یی ورکړ:

- کم بخته به ولی یم. زه شکر د جهل غوندی ورور لرم.

له هماغه وخته راهیسی ورځ او د ورځی پلویان دجهل او وریسی د شپی د نابودی له پاره هلی ځلی کوی، خو تر اوسه دوی له جهل سره لاس او ګریوان دي او شپه هماغهسی د پخوا په څیر بیغمه زړه هر ماښام د بام له پاسه راپورته کیږی او تر سباوونه پوری ولاړه وی.

PROPERTY OF ACKU
6828

# سیالی

وایي چې ښځه دومره له زمري څخه نه ویریږي، لکه له مورک څخه چې زاره ترکی ده. په دي برخه کی ډیري خبري او څیړنی شوی دي. په دي باب د یوه پوه څیړنو دغه خبره په بله بڼه رابرسیره کړی ده. دی وایي چې:

– ښځه یوازي له دوه شیانو ډارلري. یو د خپل حقیقي عمر له مالومولو، او بل دا چې په سیالۍ کې له چا کمه وي. د مړو او مورکانو د ډار په برخه کې دغه دوهمه ویره چې سیالي او همچشمي ده، تر ټولو اساسي رول لري. په دي کې شک نه شته چې ښځې له سرو زرو «طلا» سره لیوني، مینه لري اومړي هم په دغه ناروغۍ اخته دي.

جنابي راپورونه وایي چې د ښځو د سروګوتي، غوږوالۍ او نور زیورات چې تر اوسه پوري ورک او غلا شوي دي، دغلو مړو پښه پکی شامله ده.

د دی خبری د ثبوت له پاره یو مثال راوړو، وایي چې: کوم وخت یو بزګر

د پنبې په پو له ناست ؤ او ترده لړ وړاندې د مرې کور ؤ. يو وخت د بزگر پام شو چې مره له خپل کور څخه د سرو زرو سکې راباسي او د کور تر مخ يې لمرته هوا روي. او په خپله مره ورته شاوخوا د خوښۍ ټوپونه وهي. بزگر دوه ورځې پرله پسې پنځلس سکې وشميرلې چې مرې د کور مخ ته ليکه کړې وې. کله چې د بزگر په دې باور راغی چې د مرې پانگه همدا پنځلس سکې دي. نو بله ورځ د پولې تر څټ ورته پټ شو او مرې يوه، يوه سکه له کوره را ايستله. کله يې چې څوارلس سکې را وويستې او په پنځلسمه پسې سوړې ته ننوتله، بزگر ورټوپ کړل او د سوړې تر مخ يې څوارلس هوارې شوې سکې راواخيستې او بيرته د پولې شا ته پټ شو. مرې چې پنځلسمه سکه په پنجو کې نيولې وه له سوړې څخه دراوتلو په وخت کې يې پام شو چې نورې سکې نه شته. ها خوا ديخوا يې منډه کړل، خو څه شی يې تر سترگو نه شو، بيا يې خپلې نوکې مخ ته ونيوې او مخ يې په خپلو تيرونو کانو سور ککړ کړ. په پای کې يې څو سوې کريغې له خولې ووتې او پړمخې په ځمکه راولويده. له لويدو سره يې بيا ورميږيوې خواته کوږ شو او مړه شوه. بزگر هم په سړه سينه ورغی او پنځلسمه سکه يې هم راواخيسته.

له دې کيسې او نورو څېړنو څخه دا نتيجه اخلو، چې ښځې له مړو څخه نه ډاريږي، بلکې د سيالۍ او همچشمۍ خبره په منځ کې ده او ډار يې هم له دغه ټکي څخه دی.

# اعتصاب پای ته ورسید

آسانو غوښتل چې د نعلونو له وهلو ځان بیغمه کړی او په انسانانو زور واچوی چې د دوی په ځیر بوټونه او موزی ورته واخلی. د دي غوښتنی د تحقق په خاطر یی ټولو غوجلوکې اعتصاب پیل کړ او د اعتراض په ډول یی خپلی پښی په ځمکه ووهلی. خو چې کله خبر شول، یوه جوړه بوټان په پنځه دیرش زره افغانۍ دي، له خپلی پریکړی واوښتل او اعتصاب یی پای ته ورساوه.

# د کب ویره

د کب په میاشت کې یې له کب څخه وپوښتل: -

- څه علت دی چې په دغه میاشت کې د اوبو تل ته ځې او هلته د تیږو په منځونو کې ننوځې؟

کب له اوبو څخه په ډکه خوله ورته وویل:

- نه غواړم چې په نوروز کې مې زوم د خواښې کره د نوروزی تحفې په نوم یوسي، ځکه چې ملا به یې د بیولوړ والی ما ته کړی وی او په زړه کې به ښیراوی ما ته کوی.

# دمچانو گیله

که څه هم انسانان زموږ د قتل عام له پاره د هر ډول ډله ییزی وژنی وسلی څخه کار اخلی، خو موږ په دی تکی له انسانانو گیله نه کوو. ځکه د انسانانو او مچانو تر منځ د جگړی په دي اوږده تاریخ کې کله موږ او کله دوی یو پربل برلاسی یو، مگر له انسانانو څخه زموږ یوازینی گیله دا ده چې دوی موږ د خزنده گانو په ډله کې شمیری، حال دا چې موږ الوتونکی یو.

# طوطی او انسان

له طوطی نه یی وپوښتل چې ستاسی او انسانانو تر منځ څه توپیر دی ؟

طوطی په روانه ژبه ځواب ورکړ :

– دا چې موږ او انسانان دواړه خبری کوو کوم توپیرمو ترمنځ نه شته ، خو موږ په انسانانو یو امتیاز لرو چې انسانان نه شی الوتلی او موږ الوزو .

# د کال سندرغاړی

په یوه مشهوره ورځپاڼه کې د بلبل او کنری د سندرو او هنر په باب نظر وغوښتل شو. ټول سترګی په لاره وو چې په دوی کې به کوم یو د کال سندرغاړی شی. هغه وخت چې نظرونه راټول شول او نتیجه خپره شوه، نو د نظر غوښتنی خلاف زیاتو کسانو چرګی ته رایه ورکړی وه او چرګه د کال سندرغاړی شوه.

کله چې په دې باب له څو تنو څخه پوښتنه وشوه، هغوی په ځواب کې وویل:

– موږ ځکه خپله رایه چرګی ته ورکړی ده، چې چرګه هګۍ اچوی، او نن سبا د یوی هګۍ بیه سلو افغانیو ته رسیدلی ده.

# په یوه بوجۍ کې

د پوستې خانې په یوه بوجۍ کې دوه مکتوبونه سره مخامخ شول. بوجۍ ته د نوي لويدلي مکتوب چې څلور میاشتې یې همدلته تیرې شوې وې، تر څنګ بل مکتوب ته په ګیلې سره وویل:

- دا څلورمه میاشت ده چې په دې بوجۍ کې پروت یم او تاکلي ځای ته مې څوک نه وړي. دا دی ته وګوره چې زما په تنده یې څه لیکلي دي؟

تر څنګ مکتوب چې په سختۍ سره یې شونډې یوې ترخې موسکا ته خلاصې کړې، ځواب ورکړ:

- په دې خبرو پسې مه ګرځه، ستا په تنده یې یوازې عاجل لیکلي دي، زما په تنده چې د عاجل تر څنګ اشد محرم هم ملګرې دی، دا پوره څلورم کال دی چې په دغه بوجۍ کې پروت یم.

# توپیر

سوی ته یې ویل:

- ستا او د خره تر منځ څه توپیر دی؟

سوی موسکی شوه او ځواب یې ورکړ:

- په غوږونو کې سره یو برابر یو، خو په منډه کې خر په ما پسې نه شي رسیدای.

# زمری څنګه ځنګل خوښې کړ؟

د یو ځنګل تر څنګ کلی و چې زیاتو اوسیدونکیو د ځنګله د حیواناتو، الوتونکو او ونو نومونه په ځانونو ایښې وو. د کلی ټوله ګوزاره په همدی ځنګله وه. لرګی، واښه او حتی د ښکار غوښه دا ټول یې له ځنکل څخه لاس ته راوړل.

یو وخت په ناڅاپي توګه د غه ځنګل ته زمري کډه راوکړه. د زمري له پیدا کیدو سره چاپېره نه شو ښه کولای چې ځنګله ته دي د لرګیو او ښکار له پاره لاړ شي.

د کلي او سیدونکو ډول، ډول چلونه په کار واچول، خو له ځنګل یې زمري ونه شوا یستلای.

وایي چې کومه ورځ زمري وږی شوی وُ، او ښکار یې مخې ته نه وُ ورغلی. په دي ورځ د ګیډې مړولو له پاره د کلي لورته لاړ، په دي نیت چې له کلي څخه کوم څاروی راووځي او دی یې له ځانه سره ځنګل ته یوسي. زمري د ښکار له پاره کلي ته دومره نیږدي ځان غلی کړی وُ چې حتی د خلکو خبری او غږونه یې هم اوریدل.

هغه په یوه شیبه کې د زمري، باز، شاهین او پړانګ څو څو نومونه واوریدل چې کلیوالو به یو او بل ته سره اخیستل. زمري چې په کلي کې د نورو زمریانو نومونه واوریدل، بیرته له ځایه پاڅید او ځنګل ته ننوت. هلته یې خپل لوښی کودی بار کړل او له دغه ځنګل څخه یې د کډې کولو په وخت کې د یوی ونی په تنه ولیکل: په دي ځنګل کې زما نوره ګوزاره نه کیږي، ځکه چې دلته نور زمریان هم اوسیږي، او هوښیارانو ویلي دي چې: په ځنګل کې یو زمري بس دی. زه لاړم او ځنګل مې تاسو ته درپرېښود.

# ته همدلته اوسه

کاغی دونی په ښاخ ناسته وه او یوه ټوټه غوښه یې په مښوکه کې نیولې وه. د ونې په بیخ کې وږې گیدړې دوه سترگې همدې ته ځلور کړې وې چې د کاغي له خولې نه دغه غوړه مړۍ ځنگه تر لاسه کړي. وروسته له ډیرو سوچونو یې ورغږ کړل:

- ځنگه ناخبره دونې په سپیره ښاخ ناسته یې؟ ته لکه چې په

راديوتلويزيون کې د موسيقي له کانکور او فيستوال څخه نه يې خبره؟

کاغۍ د غوښې ټوټه هماغسې په مښوکه کې ټينګه نيولې وه او د نه خبرېدو په علامه يې ګيدړې ته سر وښوراوه. ګيدړې په پوره افسوس ورته وويل:

- ډير د خپګان ځاى دى چې تا په دغه کانکور کې برخه نه ده اخيسې. ما چې ستا غوندې خوږغږ درلوداى، نو د سندرو په نړيوالو فيستوالونو کې به مې خپلو رقيبا نو ته ماته ورکوله. خو ته د خپل زړه راکښونکي غږ په قدر نه پوهيږې. زه چې ستا ښکلى غږ اورم نو له ډير خوند او ذوق څخه بې هوښه کيږم. کاشکې يو ځل په خپل ښکلي غږ څو سندرې راته ووايې.

کاغۍ چې د ګيدړې په ستاينه مغروره شوې وه، په سندرو يې خوله وازه کړه. له کوړاغ، کوړاغ سره يې د غوښې ټوټه په ځمکه ولويده. ګيدړې دسترګو په رپ کې ټوپ کړل او د غوښې ټوټه يې خولې ته کړه. په داسې حال کې چې د ونې له بيخ څخه ليرې کيده، کاغۍ ته يې په لوړ غږ وويل:

- ته همدلته اوسه. زه به دې نوم د فستيوال په ګډون کوونکو کې ورکړم.

# دعوه

یو وخت د مار او چینجي پر څوکۍ باندې د ... وه شوه. چینجي مار ته وویل:

- خبره په اوږدوالي او غټوالي کې نه ده ... که د زور خبره وي، نو زه هم ترتا په زور کې کم نه یم. زه ځمکه سوری ... نوم او پکې ننوځم خو ته خوارد کوتې دغه کار هم نه شي کولای او په پردي ... سوړو ننوځې.

مار د چینجي له دې خبرې سره موسکی شو او خبره یې ورغبرگه کړه:

– ته که رستم هم شي تر څوکي نه شې رسېدای. ته دې دغه دوه گوتې قد وگوره او بیا د څوکۍ دعوه. زه د دې ترڅنگ چې څوکۍ ته د رسېدو مناسب اوږدوالی لرم، نو تر خوا داسې زوروړ نیش هم راسره دی چې په یو وار نیش وهلو سره فیلان راچپه کوم.

چینجي چې په لاپو او باتو کې مار ته غاړه نه ایښوده، ځواب ورکړ:

– زه به اوس لومړی خپل اوږدوالی درته ثابت کړم او بیا به د زور خبره سره سپینه کړو.

له دې خبرې سره یې لکۍ په یو لرگي پورې تاوه کړه او بیا یې ځان وغزاوه. له غزېدو سره چینجی دوه ځایه شو.

مار چې د څوکۍ د بازو له پاسه سرایښی وُ، په نیش داره موسکا ورته وویل:

– کم بخته، څوکۍ د هغو وی چې نیشو نه وهي.

# څوک زور ور دی؟

دورگی او انسان تر منځ د زور او قوت خبره شوه. ورگی غوښتل چې ځان تر انسان زورور او قوي وښيي او انسان خودغه حق د خپل ځان باله.

د دوی تر منځ دغه مشاجره روانه وه چې د ورگی سترگی په یوه ویده فیل باندی ولگیدی، د فیل له لیدلو سره یی وارله واره انسان ته وویل:

– که ته رښتیا هم زورور یی نو دغه ویده فیل به له ځایه پورته کړی.

انسان چې فیل ته وکتل او بیا یی خپل ځان وکوت، نو د فیل جگول یی په وس پوره نه وو. څو شیبې یی چرت وواهه، یودم یی ټوپ کړل او د فیل تر ښنگ یوه ډبره یی راپورته کړه، بیا یی ډبره بیرته په ځمکه وغورځوله او ورگی ته یی وویل:

- که ته رښتیا هم زوروره یې، نو دغه ډبره پورته کړه.

ورګی د سترګو په رپ کې ټوپ کړل، د ډبرې له پاسه کیناسته او انسان ته یې مخ ورواړاوه:

- دغه ډبره چې تا پورته کړه د فیل د یوې پښې په اندازه وزن هم نه لري. اوس وګوره چې زه دغه غټ فیل څنګه در ته پورته کوم.

ورګی د تیږې له سرنه دوه درې ټوپونه واچول او د فیل تر ګیډې لاندې ننوته. پنځه ثانیې لا نه وې تیرې شوې چې فیل پښې وښورولې او په خرطوم باندې یې خپله ګیډه وګروله.

انسان لاهماغسې هک پک ولاړ و چې فیل یو دم له ځمکې را پورته شو او دوه درې ګامه وړاندې یې ټوپ کړل. د فیل له ځګیدلو سره ورګه شخه غاړه راووته او انسان ته یې وویل:

- ودې لیدل چې څوک زورور دی؟

له دې خبرې سره ورګه د انسان په پایڅه کې ننوته او له ننوتو سره انسان هم په ټوپونو شو. انسان هم ټوپونه وهل او هم یې په چیغو، چیغو ورګی ته ویل:

- منم چې ته زوروره یې، راووځه چې زه دې نور له ځمکې څخه په پورته کولو، پورته کولو مړ کړم.

# ليوان څنګه د ښتوته ووتل؟

وايي چې په يوه ځنګل کې غوښې خوړونکي ځناور او واښه خوړونکي حيوانات يو ځاى اوسېدل. که څه هم په ښکاره غوښې خوړونکو له وښو خوړونکو سره په سوله کې د ګډ ژوند شعارونه ورکول، خو د لاس برى په وخت کې د غه شعارونه تش د خولې خبرې وې. داسې ورځ به نه وه چې څوڅو پسونه، اوزې، غواګانې او نور به د غوښې خوړونکو له خوانه داړل کېدل. خبره تر دې حده ورسېده چې غوښې له غوښې خوړونکو څخه زياتې شوې او د دې ضرورت پيدا شو چې زيا تو شويو غوښو ته څوکيدار ودروي

او د راتلونکو ضرورتونو له پاره یې وساتي.

د دې مهم کار له پاره یې د څوکیدارۍ دنده پیشو گانو ته ورکړه، مشرې پیشو چې خپله ځوانۍ یې د موږ کانو سوریو ته په انتظار، انتظار خاورې کړې وه، د دې ارزښتناک ماموریت په ترلاسه کولو سره څو تنو په وسله سمبالو پیشو گانو ته وویل:

- په انسانانو کې متل دی چې: ړوند له خدایه څه غواړي؟ دوه سترگې. نو موږ هم دغه ورځ له خدایه غوښته، خو اوس زموږ هوښیاري په دې کې ده چې خپل خوراک باید د نورو په تابلوگانو کې تیر کړو.

له هماغې شیبې وروسته پیشو گانو په غوښو خوړلو پیل وکړ او د دوی له خوا د خوړل شوې غوښې د مصرف سندونه به یې یادلیوانو، او یا هم د پړانگانو په اسنادو کې تیرول او په باقیا تو به یې خاورې اړولې.

دغه خوراک او ساخته کارې تر ډیره وخته روانه وه، خو چې کله د کنترول په وخت کې ځیرک او چالاک گیدړ د غوښې مصرف د ځارویو په اسنادو کې ولید، په پیشو گانو باندې د څوکیدارۍ اعتماد له پوښتنې سره مخامخ شو. خبره د سترگو په رپ کې ترزمرې ورسیده. او زمرې هم د څیړنې او تحقیق له پاره څو گیدړانو ته دنده ورکړه او د عاجلو اجرااتو سپارښت یې ورباندې وکړ.

گیدړانو چې دغه دنده یو طلایي چانس باله، بې له ځنډه یې د

تحویلخانو په پلټنې و باندې پیل وکړ. په لومړیو ورځو کې یې دومره زور په پیشو گانو واچاوه چې لاره او چاره یې ورځنۍ ورکه کړه، په پای کې پیشوگانې او گیدړان د غوښو په خوراک کې گډ تفاهم ته ورسیدل او د غلا شویو غوښو په دوسیه کې پیشو گانو برائت واخیست. د همدې برائت ورکولو له امله د گیدړانو کولمې هم غوړې شوې.

د پیشو گانو او گیدړانو دغه گډه لویه لاروانه وه چې ځینې پټ گنگوسې زمرې ته ورسیدل او هغه یې دې ته اړ کړ څو د لیوانو له ترکیب څخه جوړ شوې هئیت د پیښې د څارلو له پاره ورولیږي.

لیوان به چې پخوا د شپې له خوا داړې ته راوتل، نو داخل د زمرې له خوا د ورکړ شوې صلاحیت په درلودلو سره په رڼا ورځ د غوښو د تفتیش په نوم، تحویلخانو او گدامونو باندې ورپریوتل.

پیشو گانو غوښتل چې د نوې تفتیش له پاره دوسیې او سندونه راوسپړي، خو لیوانو بیا له واده د تحویلخانو دروازې ماتې کړې او د غوښو سپیره هډوکې یې وتښتول.

که څه هم غوښې پیشو گانو او گیدړانو خوړلې وې، خو لیوان د سپیرو هډوکو په تښتولو سره په ځنگل کې د زمریانو له ویرې داوسیدلو څخه محروم شول او سپیرو دښتو او بیابانونو ته یې مخه کړه.

# د مقررۍ اعلان

میږې په ورځپاڼه کې ولوستل چې په عمومي ډیپوګانو کې د ګدامدار مرستیال ته ضرورت دی. د شپې یې په خپل کور کې عریضه ولیکله او سهار په پرونۍ لوستل شوې پته دارزاقو ریاست ته لاړ. وروسته له څو ورځو منډو ترړو یې عریضه د ګدامونو مشر ګدامدار ته چې یو غټ فیل و په میز کښېوده. داستخدام مدیریت په عریضه کې د ګدامدار د موافقې غوښتنه کړې وه.

فیل څو ځله په خپل خرطوم باندې غوږ وګراوه او بیا یې د عریضې په پای کې ولیکل: « زه په ګدام کې د میږې له تقرر سره موافقه نه لرم »

میږې خواره کوښې چې د تحصیل له پای ته رسیدو وروسته یې دوه کاله د بیکارۍ مزه څکلې وه، خوښ شو چې ګوندې کار مې وشو، خو له دروازې څخه دراوتلو په وخت کې یې د فیل لیکل شوې جملې ته پام شو.

له لوستلو سره يې په سترګو توره شپه شوه او سرور باندې وځرخيد. يوه شيبه يې ديوال ته تکيه ووهله او چې کله وينه پکې وچليده، نو په نا اميده لهجه يې له فيل څه وپوښتل:

- صاحبه ولې مو موافقه راسره ونه کړه؟

فيل خپل وچولی تريو کړ او ځواب يې ورکړ:

- ځکه چې ميږيان له ګدام څخه غله دانه پټوي او زه دلته غلو ته اړه نه لرم.

ميږي چې د فيل دغه بې سنجشه او تحقير آميزه خبره واوريده په پوره نا اميدۍ يې له دروازې څخه دوتلو په وخت کې فيل ته يوازې دومره وويل چې:

- زه که ټول عمر هم له دې ګدام څخه غله دانه وچلوم دومره زيان نه شم اړولای لکه ته چې يو ځل يوازې يوه مږۍ خولې ته کړې.

د ميږي له تګ سره فيل ساعت ته وکتل چې د غرمې دولس بجې دي او د خوراک وخت دي. ورويې د ګدام دروازه بيرته کړه او يوه سورۍ شوې بوجۍ يې په خرطوم کې راونيوه، فيل غوښتل چې بوجۍ په دوه درې شخونده کې خلاصه کړي، خو د ميږي خبرې يې دومره چرت ورخراب کړی و چې سلامته بوجۍ يې يودم په خوله کړه.

# اوچت الوتل «بلندپروازي»

میږیان چې هره ورځ به له دوی څخه د غنمو ژوند یو موجوداتو له خوا تر پښو لاندې کېدل، په دې ارمان وو چې خدای «ج» ورته وزرورکړي او له ځمکې څخه هسک والوزي.

کله چې د ځینو میږیو وزر وشول او اوچت والوتل، له واره په هواکې د توتکیو خوراک شول.

# ګیدړان او ښکاریان

– پیړې، پیړې وشوې چې ښکاریان زموږ پوستکي باسي او په بې رحمۍ سره مو وژني: له همدې شیبې وروسته په ډاګه اعلانوو چې موږ سره یو کیږو او د ښکاري پوستکي باسو.

دغه وینا د ګیدړانو د مشروینا وه چې د یوې سترې غونډې په ترڅ کې

یی په لوړ غږ د یوی غنمی تیږی له سرنه نورو گیدړانو ته واوروله. له غونډی وروسته په ښکاریانو باندی د برید ډلی وټاکل شوی او د غه جنگی ډلی په ډیر لږ وخت کې په تورو، نیزو، غشو او ډانگونو باندی سمبال شوی. د خپل مشر په لارښوونه یی د ځنگله په یو کونج کې سنگرونه ونیول او د ښکاری ژوندی نیولو ته په کمین کې کیناستل. په دی وخت کې یو خواره کوتی لرگی ماتوونکی د لرگو ټولولو له پاره ځنگل ته راغی. سم یی لا پری له ملا نه و را خلاص کړی چې گیدړان له مورچلو نو ورپسی را پاخیدل او لرگی ماتوونکی یی محاصره کړ. او چې څو یی ځان ښوراوه، بیا یی په هماغه پری چې لرگی یې پکې تړل، سوټ بوټ وتاړه. د دی ستربریالیتوب د جشن په خاطر گیدړانو له هغو چرگانو څخه چې له کلیو یی تښتولی وو، سرونه والوزول او د خوښۍ سرودونه یې پیل کړل.

اوس نو گیدړان په دی نه جوړیدل چې په څه ډول له ښکاری څخه خپل غچ واخلی. هغه ځانگړی کمیسیون چې د دی کار له پاره جوړ شوی و، د خپلو غړو د ډول، ډول نظرونو سره لاس او گریوان و. یو ویل چې سترگی په سیخونو تری وباسی. دوه دری تنه په دي نظرو و چې گوتی یی ورماتی کړی، څو د ماشی له کش کولو وځی. او ځینی نورو له دي هم د سختی سزا غوښتنه کوله. خو په پای کې د کمیسیون مشر د سزا ورکولو پریکړه په دي ډول اعلان کړه:

- له ده سره باید هغسی عمل وشی، لکه چې موږ سره یې کوی. د پوستکي غچ په پوستکي اخیستل کیږي.

له دې خبرې سره ټولو ګیدړانو په یو غږ چیغې کړې چې:

- سمه ده، همداسې دې وشي.

د پریکړې د عملي کولو له پاره یې لړګي ماتوونکی په منځ کې ودراوه او د پوستکي ایستلو ترتیبات ونیول شول. وارله واره څو تنو ګیدړانو ټوپ کړل او د غاړې کمیس یې په نوکوکې ورځنې څیر، څیر کړ. بیا یو قدم تر شا شول او دې ته سترګې په لاره وو چې د خپل مشر له خوا د پوستکي ایستلو امرورته وشي.

مشر د لرګي ماتوونکي لغړو سپیرو لاسونو او وچو پښتیو ته کښته پورته وکتل. څو ځله ورځنې تاو راتاو شو، بیا یې په زړه سوی له ځانه سره څک، څک وکړل او په لوړ غږ یې نورو ګیدړانو ته وویل:

- زما عزیزانو! تاسو یې د سرپه سترګو وینئ چې دغه ښکاري څومره غریب او بې وزله موجود دی. موږ او تاسې د خدای فضل دی یو په پستو وېښتو پټ پوستکي لرو، خو دې خواره کوټې حتی دغه پوستکي هم نه لري.

ګیدړانو چې د لرګي ماتوونکي ډنګرو او سپیرو پښتیو ته وکتل د خپل مشر خبره یې تائید کړه. څو تنو د غونډې له منځ څخه مشر ګیدړ ته

ورچیغی کړی:

– نو څه ورسره وکړو؟ ووایه چې خبره یوی خواته شی.

مشر گیدړ د لاس په اشاره د څو احساساتی او راپاریدلو گیدړانو شور او زوږ غلی کړ او بیا یی وویل:

– که څه هم له ښکاریانو سره زموږ او به په یوه ویاله کې نه درومی، خو مهمه نه: عدالت خبره ده. له داسی یو غریب ژوندی موجود څخه به د غچ اخیستل څه خوندو لری چې حتی هغه دي یو په ویښتو پټ پوستکی هم ونه لری؟

بیا د گیدړانو زوږ پورته شو.

– ووایه چې څه ورسره وکړو؟

مشر گیدړ په ډیره سړه سینه ځواب ورکړ:

– دا چې ښکاریانو تر اوسه هر څه کړی دي، د دوی خپل کار دی. خو موږ سره باید دا توپیروی چې په یو بی وزلی او غریب موجود باندی د لاس بری په وخت کې ترحم وکړو.

په دي ډول هغوی لرگی ماتوونکی د ده د بی وزلی په خاطر وباخښه، خو ښکاریان اوس هم د بی وزلو گیدړانو پوستکی په مار کیټونو کې پلوری.

# هغه لیوه چې د میږی په تول لاړ

یو وږی لیوه چې له څو شپو راهیسې یې په رمه سترګې لګیدلې وې، د شپون او د رمې د دوه ساتونکو سپیو له ویرې یې په رمه باندې د داړې اچولو زړه نه شو ښه کولای.

هره ورځ به چې رمه د ده تر مخ تیریدله، نو ده به یو ځل ورته د خوند لاړې له ستوني تیرولې. څو ځله دونو په منځ او د غنمو تیږو لاندې ورته پټ شو. خو څه یې تر لاسه نه کړل.

په پای کې یې د میږی پوستکی واغوست او غوښتل یې چې د میږو په بڼه کې د رمې منځ ته ننوځي او بیا یې چې هر څه زړه غوښتل، هغه تر سر کړي.

په هغه ورشو (څړځای) کې چې شپانه به هره ورځ رمه ورته راوستله لیوه د میږی په لباس کې دونو ترشاپټ کیناست او د رمې لاره یې څارله. مخکې له دې چې رمه وربانده راشي او دی خپل هدف ته ورسیږي، ناببره څو وږی لیوان پرې رابربر شول. لیوانو چې په خوشې بیابان کې د شپانه او سپي له ډاره پرته په میږه سترګې ولګیدې، په پوره خوښۍ یې ورټوپ کړل او هغه یې له ستونې ونیوه، لیوه چې هر څو چیغې وکړې او ورته ویې ویل چې زه لیوه یم، چا ورسره ونه منله.

نیم ساعت وروسته چې کله شپون له هغه ځایه تیر یده، نو سترګې یې دوینو په څاڅکو ولګیدې چې تازه څڅیدلې او د میږی وړۍ په بوټو پورې نښتې وې. شپانه فکر وکړ چې ضرور یې د ده له رمې څخه کومه میږه داړلې ده. ژر یې میږی راټولې کړې او هغه یې وشمیرلې. او چې کله یې خپله رمه په شمیر پوره وه نو د بل شپانه په حق کې یې ورو له ځانه سره وویل:

– دا به د کوم کم بخت میږه وه چې د لیوانو خوراک شوه؟

# زورور او ظالم ته په مخه مه ورځئ

موږ کانو تصميم ونيو چې يو چالاک، هوښيار او زړور موږک د جاسوسۍ له پاره د پيشوګانو منځ ته ولېږي، څو دغه موږک د پيشوګانو هغه تکتيک او تخنيک چې د موږکانو د نيولو په وخت کې ورځني ګټه اخلي، ځانونو ته څرګند کړي.

ګمارل شوی موږک دری مياشتې په پرله پسې توګه د پيشوګانو دغږ، په لاره تللو او په موږکانو باندې د ټوپ وهلو طريقه زده کړه او تمرين يې وکړ. وروسته د ډيرو تکړه مکياژورانو له خوا کټ مټ لکه پيشو غوندې مکياژ شو او د يوې رښتينې پيشو په څير ماسک يې ورواغوست.

موږک د ماښام په خړه کې د کوټې منځ ته ورووت او ځان يې عملاً په پيشوګانو ورګډ کړ. څو ځله په کوټه کې تاوراتاوشو، وروسته د کور انګړ ته ووت، خو په لومړي ځل له رښتينې پيشو سره د مخامخ کيدو ډار دومره ويرې په سر اخيستی و چې ډير ځله به د پيشو تګ او ميو، ميو هم ورځني هير شول، مګر دا چې ډير مهم ماموريت يې په غاړه درلود او د دده د تير د برخليک خبره په منځ کې وه، نو بيرته يې خپل فکر راټول کړ.

د خپل ماموريت په لسمه دقيقه کې دانګړ د دروازې تر څنګ له يوې

توری او ویروونکی پیشو سره مخامخ شو. پیشو د دیوال له سر نه د د ټپلور ورټوپ کړل. موږک فکر وکړ چې گوندی پیشو پیژندلی دی او د خوړلو برید یی پری وکړ. د پیشو له ناڅاپی ټوپ سره خواره کوتی بی هوښه شو او لکه مړی غوندی یی اوږدی پښی وغزولی.

پیشو چې ورته وکتل، نو دغه نوی بی حاله پیشو ورته میلمنه ښکاره شو ځکه چې پخوایی کله دغه ډول پیشو په دي کلی کې نه وه لیدلی.

ژر یی له پښو او لاسونو ونیوه او په کش کولو کش کولو یی خپل کورته بوتله. هلته یی ورته پښی او لاسونه وموښل او موږک په هوښ راغی.

موږک چې ځان د پیشو په کور کې ولید نو بیرته یی د سترگو تور او سپین سره لاړل، راغلل او بیا بی هوښه شو. خو کله چې دوهم ځل په هوښ راغی، نو خپل ماموریت وریاد شو او ځان یی رازړور کړ.

د دې له راپاڅیدو سره توری پیشو ورته د ډوډۍ سرشته ونیوه. په دسترخوان باندی ډول، ډول خواږه چې له خو کورونو څخه راغلا شوی وو، تر سترگو کیدل. موږک په ریږدیدلی لاس د دسترخوان له څنډی د کورتویود ټوته راپورته کړه، خو توری پیشو د دسترخوان په منځ کې ایښی غوری د ده مخی ته ورنیږدی کړ او ورته ویی ویل:

- په وچو کورتو څه کوی، له دي څخه یی درواخله. دغه موږک می میږه همدا پنځه دقیقی د مخه تازه نیولی دی.

موږک چې غوري ته وکتل، نو په سترګو يې توره تياره شوه. پنځه شپږ موږکان په غوري کې يو د بل له پاسه مړه پراته وو. بيا يې په هغه موږک سترګې خښې کړې چې د توري پيشو ميړه همدغه شيبه تازه نيولی و. چې ښه ورته ځير شو، ويې ليدل چې خپل کشر ورور يې دی. له پيژندلو سره يې د خولې نه يوه سوي کريغه ووته او د دسترخوان له سره يې ټوپ کړل. کله چې د خپل کور دروازې ته ورسيد، نو د پيشو ماسک يې له ځانه ليرې کړ او بيا په بيړه کورته ننوت. په کور کې يې ګڼه ګوڼه وه او د ګاونډيو کورونو مړي او موږکان يې دوروز په ماتم کې راټول شوي وو. موږک له يوې خوا ډار او وهم او له بلې خوا دوروز مړينې دومره بې حاله کړی و چې کورته له رسيدو سره پړمخې په ځمکه پريوت.

نورو موږکانو چې په ده سترګې ولګيدې، ټول ورځنې راتاو شول. په منډه يې ورته شربت جوړ کړ او په خوله کې يې ورو څڅاوه، موږک چې په هوښ راغی او سترګې يې وغړولې، نورو موږکانو ورځنې وپوښتل:

- ايا دومره ژر دې د پيشوګانو تکتيک او تخنيک زده کړ؟

موږک يوه ژوره ساه واخيسته او بيا يې راټول شوي موږکان مخاطب کړل:

- په تکتيک او تخنيک پسې مه ګرځئ. که له ما اورئ، نو د اتر ټولو ستر تکتيک دی چې زورور او ظالم ته هيڅ کله په مخه مه ورځئ.

# بزگر او گیدړ

بزگر غوښتل چې ځمکه واړوي او د کرله پاره یې جوړه کړي. په دې وخت کې یوه وږې او د کلي له چرګانو څخه نا امیده ګیدړه ورباندې راغله او تپوس یې ورځنې وکړ:

-بزګر ماما په ځمکه باندې څه شی کړې؟

بزګر چې د ګیدړې ډنګرې ځیرې ته وکتل نو په موسکا یې ځواب ورکړ:

- زړه مې دی چې لړې او کولمې پرې وکرم.

د لړې او کولمو له اوریدو سره ګیدړې د خوند لاړې تیرې کړې او د

شویق په دود یې بزگر ته وویل:

-زه چې ستا د پټي رنګ ته ګورم، نو بې له لرۍ او کولمو څخه بل ښه حاصل نه شي ورکولای، د خاورو رنګ یې لرۍ او کولمو ته ورته دی.

له دې خبرې سره ګیدړه د خیالونو په ډنډلاهو او په پټي کې درا شنو شویو لرو او کولمو د خوړلو په چرت کې ډوبه شوه.

د دې له پاره چې خبرې مزه ورته ورکړې وه، د تاکید له پاره یې بزګر ته وویل:

- پام کوه چې بل شئ پرې ونه کرې. زه د ځمکې په پیژند نه کې تخصص لرم. ستا د پټي ډیره ښه خاوره ده، خو دا راته ووایه چې ساتنه یې په چا باندې کوې؟

بزګر چې د ګیدړې په نیت وپوهید، په موسکا یې ورته وویل:

- په بوچي سپي باندې.

ګیدړې چې د سپي نوم واورید، نو له لرۍ او کولمو څخه نا امیده شوه ورو یې وربوز د بزګر په پټي پورې وسولاوه او بیا یې بزګر ته مخ ور واړاوه:

- خوشې ځان مه ستړې کوه، ستا د پټي چندان خاوره نه ده. زه چې د خاورې جنسیت ته ګورم نو باور مې نه کیږي چې لرۍ او کولمې پکې راشنه شي.



## د لیکوال چاپ شوی آثار:

١- د شکایاتو صندوق- طنز داستانونه- کابل چاپ د لیکوالو انجمن

٢- مدیر صیب په خط خو به پوهیږي؟ طنز داستانونه- کابل چاپ. د سرحدونو چارو وزارت د خپرونو ریاست.

٣- د کارسیالی- طنز داستانونه- کابل چاپ، د اطلاعاتو او کلتور وزارت د خپرونو ریاست.

### د کاتب پاڅون نور آثار چې دانش کتابخانې خپاره کړي:

١- پندونه او خوندونه- واړه طنزونه

٢- د بنجاره هټۍ- واړه طنزونه

٣- دولتي موټر- طنز داستانونه

٤- سړی څنګه ښځه شو؟ -

٥- دیګونه او شعرونه- طنزي نظمونه

٦- د ښار په ستدیوم کې- په پیښور کې د مهاجرت د وخت طنزونه

# هغه آثار چې دانش کتابخانې خپاره کړي

| | | |
|---|---|---|
| ۱ | سفر ها و خاطره ها - | حامد علمی |
| ۲ | ارتش سرخ در افغانستان - | گروموف |
| ۳ | رجال و رویداد های تاریخی افغانستان - | احمد علی کهزاد |
| ٤ | در زوایای تاریخ معاصر افغانستان - | احمد علی کهزاد |
| ٥ | احمد شاه بابا افغان - | میر غلام محمد غبار |
| ٦ | افغانستان در طلسم دایره شیطانی | داکتر سید عبدالله کاظم |
| ۷ | مزارات شهر کابل - | محمد ابراهیم «خلیل» |
| ۸ | ضرب المثل های افغانی | میرپور |
| ۹ | شب های آوارگی - | خلیل الله خلیلی |
| ۱۰ | لیکوالي املاء انشاء - | گل پاچا الفت |
| ۱۱ | سوځیدلی جنت - | شهرت ننگیال |
| ۱۲ | سړی لښکرې په افغانستان کې - | گروموف د داود جنبش پښتو ترجمه |
| ۱۳ | چنار خبرې کوي - | د پیر محمد کاروان د شعرونو مجموعه |
| ۱٤ | بدیع او پښتو شعر - | اورنگ زیب ارشاد |
| ۱٥ | مساپر - | د اکبر بری د شعرونو مجموعه |
| ۱٦ | نومیالی غازی - | اورنگ زیب ارشاد |
| ۱۷ | ژورې خبرې - | میرزا علم حمیدي |
| ۱۸ | د پښتنو بغاوت - | وونسام ملز - د داکتر خالق زیار پښتو ترجمه |
| ۱۹ | ادبی لیکونه - | پوهاند صدیق الله رښتین |
| ۲۰ | د لیکوالۍ فن - | سید محی الدین هاشمي |
| ۲۱ | دوه مخي کسان (طنزونه) | میرزا علم حمیدي |
| ۲۲ | وری څنګه لیوه شوه (طنزونه) | میرزا علم حمیدي ترجمه |
| ۲۳ | پندلونه او خوندونه (طنزونه) | کاتب پاخون |
| ۲٤ | د بنجاره هټی (طنزونه) | کاتب پاخون |
| ۲٥ | دولتی موټر (طنزونه) | کاتب پاخون |
| ۲٦ | د ښار په استدیوم کې (طنزونه) | کاتب پاخون |
| ۲۷ | دیگونه او شعرونه (طنزیه نظمونه) | کاتب پاخون |
| ۲۸ | سړی څنګه ښځه شوه؟ (طنزونه) | کاتب پاخون |

PROPERTY OF ACKU 6823

دانش کتابخانه: دهکی نعلبندی، قصه خوانی بازار، پښاور

Kateb Pasun

# Tastes and Recommendations

## *A Collection of Satires*

1997
Danish Book store, Peshawar